# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com


| هنر و موسیقی | Arts & Music |
| --- | --- |

فرهاد ویاړ
۰۳.۱۸.۱۰

## ژان فرا؛ د مبارزې او تعهد آواز

موسيقي د هنري ژانر په توګه هغه وخت تلپاتي کيږي چي د ولسونو او خلکو له واقعي ژوند سره تړاو ومومي او په خپل ترنم کي هغه څه ته انعکاس ورکړي چي هره شيبه، هره ګړی او هره لحظه ولسونه يي په خپل وجود سره احساسوي. موسيقي او په تيره بيا ولسي او متعهده موسيقي نشي کولاې خلک تخدير کړي، صوفی ګري دود کړي او د جنايتکارانو او خاينانو په مدحه کي د سازونو آواز پورته کړي. خو له بده مرغه زمونږ په هيواد کي موسيقي هغه رسالت او اصالت نه دي په ځای کړی، څه چي يي په چيلي، آرژانتين، اسپانيا، کوبا، روسيه، فرانسه، ايتاليا، امريکا او ان ايران کي په پرتمين ډول تر سره کړی دی.

زمونږ په هيواد کي که موسيقي لا د صنم په زلفونو کي اسيره ده او د معشوقي په شونډو رپيږي او د ځيني بازاري سندرغاړو لخوا د جلادانو په مدحه کي سپکيږی او په کرکي بدليږي؛ خو په فرانسي کي، ژان فرا، کلونه موسيقي د خپل آرمان د ترنم هغه پرتمينه وسيله ګڼله چي د ژوند تر پای پوري ورته ژمن پاتي شو.



هو، خبر شوم چي ژان فرا، د فرانسي د موسيقی ځلانده ستوری په ۷۹ کلني کي، د ۲۰۱۰ کال د مارچ پر دیارلسمه له نړۍ سره وداع وکړه او یوازې آواز یې مونږ ته د خپل د ژوندانه د بیوګرافي په توګه په یادګار پریښود. د ژان فرا، آواز او موسیقي دواړه د مبارزې او انقلابي غورځنګونو سره تړاو موندلی و او که څه هم د فرانسي د کمونیست ګوند غړیتوب یې تر لاسه نکړ او د ځینو اختلافاتو سره سره یې د دې ګوند له مبارزې څخه دفاع وکړه.
دا ځلانده ځیره په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ کلونو کي د فرانسوي ځوانانو تر منځ د مبارزې، مینې او هیلې روښانه سمبول ګڼل کیده او سندرې او ترانې یې د مبارزو ځوانانو پر شونډو زمزمه کیدې. خو د فرانسي راډیو د دې مبارز سندرغاړي د ترانو له خپرولو ډډه کوله ځکه د نوموړي ترانې او آواز یې د کمونیستي تبلیغاتو یوه برخه ګڼله.
ژان فرا، چې د لویې آراګون، پل الوار او د خپلو شعرونو څخه څه باندې ۲۰۰ ترانې ویلې دي په اکثرو ترانو کي د خپلې مینې او سیاسي تعهداتو ستایل هیر کړي نه دي. دې فرانسوي مبارز سندرغاړي، د پخواني شوروی اتحاد له خوا د افغانستان او پراګ اشغال په کلکه وغندو او په دې ډول یې وښودله چې مبارز سندرغاړي د نړۍ په هر ګوټ کي د ښکیلاک او استعمار  او ستم پر ضد ودریږي او یو مبارز سندرغاړي ته نه ښایي چې پر یرغل او وحشیانه کړنو باندې چوپه خوله پاتې شي او په دې ډول نوموړي د «هنر د هنر لپاره» تیوري په مسخرو او ملنډو ونیوله او په خپلو ترانو کي د انساني ارزښتونو او د مبارزې آواز پورته کړ.
ژان فرا، د ۱۹۳۰ کال د دسمبر په ۲۶ نیټه په پاریس کي نړۍ ته سترګې خلاصي کړی او بالاخره د سرطان د ناروغي سره د کلونو مبارزې وروسته د فرانسي په اوینا ښار کي سترګي  د تل لپاره پټي کړی.